# جریده میزان

د سترې محکمې کاري ځرګندویه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش


دو شنبه ۲ لړم ۱۴۰۱ هـ ش | ۲۸ ربیع الاول ۱۴۴۴ هـ ق | ۲۴ اکتوبر ۲۰۲۲ م | مسلسله شمېره (۱۹)


**د هستی نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي، نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کیده.

تفسیر کابلی، ج ۲، ص ۱۳۰۳

## د سترې محکمې اداري معاون د یوناما د حاکمیت قانون د څانګې له رئیس سره وکتل




د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې اداري معاون محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) صاحب د یوناما د حاکمیت قانون د څانګې له رئیس دوکتور ساموېل اوپوکو، د یوناما د قضائي چارو له مشاورینو (نظراحمدشاه او بلال مومند) سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.

په دې لیدنه کې چې د سترې محکمې د اداري معاون سربېره په کې د سترې محکمې د درالانشاء عمومي رئیس محترم مفتي عبدالرشید (سعید)، د سترې محکمې مالي او اداري عمومي رئیس محترم مولوي کریم الله (زاهد) او د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو سرپرست رئیس محترم مولوي عبدالرحیم (راشد) هم ګډون درلود د دواړو لوریو تر منځ په حقوقي موضوعاتو تفصیلي خبرې وشوې.

د سترې محکمې اداري معاون په دې لیدنه کې واضح کړه، دا چې په تېرو شاوخوا ۴۰ کلونو کې زموږ هیوادوال له ډېرو ستونزو سره مخ وه، نو زموږ هڅه داده چې په بشپړ شفاف او عادلانه ډول خلکو ته عدلي او قضائي خدمات وړاندې کړو.

محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) صاحب وویل، د افغانستان په ټولو ولایتونو او ولسوالیو کې محاکم فعال دي، د اسلامي شریعت او حنفي فقهي په رڼا کې فیصلې کوي.

د یوناما د حاکمیت قانون د څانګې رئیس دکتور ساموېل اوپوکو په دې لیدنه کې د سترې محکمې اداري معاون ته د یوناما د فعالیت او تګلارې په اړه معلومات ورکړل وویل، ملګري ملتونه د شریعت خلاف نه دي، یوناما د خپلې تګلارې سره سم د افغانستان ټولو ولایتونو ته ځي او د خلکو مشکلات ګوري.

دوکتور ساموېل وویل، موږ غواړو ځینو ولایتونو کې په وړیا ډول خلکو ته د مدافع وکیلانو په برخه کې همکاري وکړو او دوی ته د وړیا دفاع وکیلانو خدمات وړاندې کړو.

د سترې محکمې اداري معاون محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) په دې اړه وویل، د اسلامي امارت د مشرتابه د هدایت په اساس موږ له هر هغه چا سره بشپړه همکاري کوو چې ولسي خلکو ته عامه خدمات وړاندې کوي، د مدافع وکیلانو اړوند طرزالعمل نهایي او د مشرتابه عالي مقام ته د تائیدۍ لپاره وړاندې شوی؛ په دې اساس د یاد طرزالعمل تر تائیدۍ مخکې په دې برخه کې فعالیت نشي کېدای.

د سترې محکمې اداري معاون پر ځینو نورو مواردو له خبرو وروسته وویل، موږ د اسلامي امارت د مقرراتو او اصولو مطابق هر ډول همکارۍ ته تیار یو.

## د کابل مرافعه محکمه کې «په څرخي پله زندان کې د توقیف شوو کسانو برخلیک» تر عنوان لاندې غونډه وشوه



د یکشنبې په ورځ (۱۴۴۴/۳/۲۱ هـ ق) نېټه د کابل ولایت د مرافعه محکمې د عمومي رئیس محترم مولوي عبدالغفار (رحماني) په مشرۍ په څرخي پله زندان کې د توقیف شویو کسانو د برخلیک په تړاو غونډه ترسره شوه.

په دې غونډه کې چې د کابل په مرافعه محکمه کې ترسره شوه د مرافعه محکمې د دېوانونو رئیسانو، د کابل ولایت د ابتدائیه محاکمو د څلورو زونونو رئیسانو، د مخدره موادو محکمې رئیس او د ولسوالیو ابتدائیه محاکمو رئیسانو ګډون کړی وو.

د غونډې په پیل کې د مرافعه محکمې عمومي رئیس محترم مولوي عبدالغفار (رحماني) ګډون کوونکو تر هرکلي وروسته وویل، لکه څنګه چې تاسو خبر یاست د څرخي پله زندان مسؤولینو د افغانستان اسلامي امارت د سترې

پاتې برخه ۲

**اسلامي حکومت**

**لومړی برخه:**

دا څرګنده خبره ده چې اسلامي قضاء له اسلامي دولت پرته نشي ترسره کېدلای او د اسلامي نظام لپاره اساسي ستنې (پايې) عبارت دي له:

۱. د اسلامي دولت لپاره باید مشر موجود وي: د اسلامي دولت لپاره مشر په داسې طریقه ټاکل کېږي چې د عقایدو او سیرت په کتابونو کې ذکر شوي دي.

۲. د قضاوت لپاره وړ کس غوره کول: دا ضروري خبره ده چې د قضاوت لپاره باید وړ او مناسب شخص انتخاب شي، د قضاوت لپاره د شخص په انتخاب کې باید نورو شیانو (شناخت، ملګرتیا او خپلوي) ته ونه کتل شي. رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په دې اړه فرمایلي دي: «چاچې د یو قوم څخه یو کس غوره کړ او په دې قوم کې بل داسې څوک شته چې غوره (انتخاب) شوي شخص څخه الله تعالی ته خوښ وي، نو له شک پرته دغه انتخاب کوونکي کس له الله تعالی، د هغه له رسول (صلی الله علیه وسلم) او مؤمنانو سره خیانت وکړ. [رواه الحاکم فی المستدرک، رقم ۷۰۲۳]

اخذلیک: تتمة النظام، ۱۲ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحیم راشد

## دکابل مرافعه محکمه کې «په څرخي پله...

محکمې عالي مقام ته په یاد زندان کې دکابل ولایت د محاکمو په واسطه د توقیف شویو کسانو د برخلیک څرګندولو په هکله راپور لیږلی وو.

موږ د سترې محکمې د عالي مقام په هدایت ننۍ ناسته جوړه کړې چې د یاد راپور د محتوا په اړه بحث وکړو.

د استیناف محکمې محترم رئیس د غونډې ګډونوالو ته د څرخي پله زندان بشپړ راپور واضح او ولوست، د غونډې له ګډونوالو څخه یې د توقیف شوو کسانو د بې برخلیکتوب لاملونه وغوښتل.

وروسته د ناستې ګډون کوونکو په خپل وارسره داسې وضاحت او څرګندونې وکړې:

۱. کوم راپور چې د څرخي پله زندان څخه د زندانیانو د بې برخلیکتوب په اړه سترې محکمې عالي مقام ته استول شوی دی. د ډېری هغو کسانو چې په راپور کې یې نومونه یاد شوي دوسیې تر کار لاندې دي.

۲. د ځینې کسانو دوسیې چې موږ ته استول کیږي، ځینې یې تحقیقاتي نیمګړتیاوې لري، چې له همدې وجې د توقیف شوو کسانو برخلیک معلومول له ځنډ سره مخ کیږي.

۳. دوسیې ډېرې دي او جزائي دوسیو ته په اونۍ کې د مهالویش سره سم وخت ورکړل شوی دی، چې په راتلونکې کې به ان شاء الله جزائي دوسیو ته د رسېدنې وخت لا ډېر کړو.

د کابل د استیناف محکمې محترم رئیس د غونډې ګډونوالو تر خبرو اورېدو وروسته رئیسانو ته هدایت وکړ چې د زونونو، ښاري محاکم او د ولسوالیو محاکم دې د څرخي پله زندانیانو هغه دوسیې چې تر کار لاندې دي او په هکله یې غونډې ترسره شوې دي د مرافعه محکمې عمومي ریاست ته واستوي ترڅو د سترې محکمې عالي مقام ته واستول شي.

د کابل د استیناف محکمې رئیس زیاته کړه، د محاکمو ټول رئیسان باید د جنائي تحقیقاتو د ریاست له مسؤولینو سره په دې هکله د همغږۍ غونډې ترسره کړي.

نوموړي په ډاګه کړه چې قاضي په خپلو پرېکړو او ټولو قضائي اجراآتو کې مستقل دی، هېچاته دې اجازه نه ورکوي چې د قضا په اجراآتو کې لاسوهنه وکړي.

دغه راز د کابل د استیناف محکمې محترم رئیس ټینګار وکړ چې د کابل ولایت د محاکمو ټول رئیسان باید په میاشت کې یو ځل د همغږۍ ناسته وکړي. غونډه د دعاء په ویلو سره پای ته ورسېده.

## مصوبهٔ جلسه اداری ریاست عمومی محکمهٔ استیناف دایکندی

تحت ریاست محترم الحاج شیخ الحدیث مولوی عبدالکریم (محمدی) رئیس عمومی محکمهٔ استیناف ولایت دایکندی جلسه اداری ماه ربیع الاول سال ۱۴۴۴ هجری قمری با اشتراک تمام قضات، کارمندان اداری محکمه استیناف، محکمهٔ ابتدائیه شهری، در مقر صالون جلسات ریاست محکمهٔ استیناف ولایت دایکندی بعد از تلاوت چندی از آیات کلام الله مجید تدویر گردید، رئیس جلسه ضمن خوش آمدگوی به حاضرین روی اجندای جلسه بحث و موارد ذیل مورد تصویب قرار گرفت.

۱ ــ مقام محترم ریاست برای تمام منسوبین اداری و قضائی تحت اثر هدایت داد تا اینکه رویه نیک با مراجعین و همکاران را سر لوحه امورات اداری خویش قرار دهند.

۲ ــ برای تمام حاضرین در جلسه هدایت داده شد که از رفتارهای خلاف اصول اداری جلوگیری نموده و در امورات دیگران مداخله ننمایند.

۳ــ در زمینه ترتیب و ارسال راپورها بحث همه جانبه صورت گرفت و برای تمام محاکم هدایت داده شد که راپورهای خویش را به شکل سافت از طریق واتس اپ و هارد آن را از طریق پست به اسرع وقت به آمریت تحریرات ارسال نمایند؛ همچنان برای تمام اشتراک کننده‌گان و محاکم تحت اثر هدایت شد که حین وصول مکاتب، فورمه‌جات، مصوبات و هدیات را که به شعبات شان مواصلت می‌ورزد به طور دقیق مطالعه نموده از اینکه زمان اکثر مکاتب محدود بوده در قسمت جواب و ارسال به موقع آن به مرجع مربوطه آن مطابق توضیح متن آن توجه بیشتر نمایند تا ازسکتگی درامور مربوطه جلوگیری به عمل آید.

۴ــ درمورد طریقه استفاده از وسایل دفتری، به تمام حاضرین در جلسه هدایت داده شد تا از امکانات دست داشته دفتری خویش استفاده بهتر نماید.

۵ــ به ارتباط حاضری بحث همه جانبه صورت گرفت؛ به حاضرین بنابر تأکید مقامات عالی و قوانین نافذه کشور هدایت داده شد که از غیر حاضری جداً اجتناب نمایند. همچنان حاضری یومیه مطابق اصول طی دو نوبت ( صبح الی ساعت ۸:۳۰ و عصر از ساعت ۳:۳۰) امضا نمایند؛ در غیر آن از طرف مأمور مؤظف لیست غیر حاضران ترتیب و در اختیار رئیس عمومی محکمهٔ استیناف قرار می‌گیرند؛ آنگاه حق شکایت ندارند.

۶ــ تمام قضات مکلف اند که صورت دعوی و دفع دعوی را به صورت درست مطالعه نموده و دوسیه‌جات را به زود ترین فرصت فیصله نمایند. تا از التوی دوسیه‌جات جلوگیری به عمل آید.

۷ــ برای تمام قضات و اشتراک کننده‌گان در جلسه هدایت داده شد که در قسمت تأمین عدالت دست مظلومین را گرفته و ظالمین را به جزای اعمال شان برسانند.

۸ ــ آنعده از فیصله‌های که در مرحلهٔ ابتدائیه یا مرافعه قطعی می‌گردد به تمیز مربوطه ارسال گردد که تمیز مربوطه امر اجرای آن را صادر نموده و فیصله را در آرشیف حفظ نمایند.

۹ ــ قضات, مفتیان و محررین قضائی برنامه تلیگرام را به تلفن‌های خویش فعال نموده و عضویت گروپ تلگرام ریاست محترم عمومی دارالانشاء مقام عالی ستره محکمه را بدست آورند.

۱۰ ــ آنعده آز دوسیه‌جات که قطعی و نهائی گردیده؛ اما تا اکنون تطبیق نشده‌است به ریاست محکمهٔ مرافعه ارسال نمایند تا از طریق محکمهٔ مرافعه به معاونیت محترم قضائی ارسال گردد.

۱۱ــ قضات مکلف اند در هر روز کاری به تعداد موضوعاتی که رسیده‌گی کرده می‌توانند به همان تعداد مردم را به محکمه مطالبه نمایند تا از تکلیف بی‌مورد مردم جلوگیری گردد.

۱۲ ــ رؤسای محترم محکمه ابتدائیه شهری و مرافعه دارای حیثیت قضائی هستند و فیصله‌ها بدون تائید رئیس معتبر دانسته نمی‌شود؛ اگر در صورت نقض و یا رد امضای رئیس نباشد مشکل ندارد. محاکم که بر علاوه قاضی رئیس نیز دارند در نص حکم شان صیغه (حکمنا و قضینا) را بنویسند و محاکم که غیر از قاضی رئیس جداگانه ندارد (قضیت وحکمت) بنویسند. جریان قضیه را قاضی بشنود و محرر تحریر نمایند بعد از ملاحظه شد جریان تحریری قضیه به مفتی داده شود, مفتی در زمینه فتوا را پیدانموده نمبر و تاریخ را درج و امضاء نماید؛ سپس قاضی به استناد فتوی حکم نموده و آن را در آرشیف حفظ میکند, در فیصله تنها قاضی و رئیس امضاء نمایند.

۱۳ ــ محاکم ابتدائیه استهداآت و پیشنهادات خویش را از طریق محکمهٔ مرافعه طور تحریری به مقام ستره محکمه ارسال نمایند. اجراآت که محکمهٔ مرافعه انجام داده می‌توانند و صلاحیت آن را داشته باشند, انجام دهند و اجراآت که محکمهٔ مرافعه آن را انجام داده نمی‌توانند به طور تحریری به مقام ستره محکمه ارسال نمایند.

۱۴ ــ در اخیر مقام ریاست متحدالمآل شماره(۱۴) مورخ ۱۴۴۴/۲/۴ ریاست محترم دارالانشاء مقام عالی ستره محکمه را ماده به ماده قرائت نموده برای تمام اشتراک کننده‌گان در جلسه هدایت جدی داد تا تمام متحدالمآل‌ها را به صورت دقیق مطالعه نموده مطابق آن اجراآت شرعی و اصولی نمایند.

همچنان روی بعضی از موارد دیگری که در جلسه بحث صورت گرفته از طرف مقام ریاست جهت بهبود و رفع مشکلات موجود هدایت و رهنمائی‌های لازم صورت گرفت. در اخیر جلسه بعد از دعائیه ختم یافت.

## تدویرجلسهٔ تحت ریاست رئیس عمومی محکمهٔ استیناف بلخ به ارتباط طرزالعمل چگونگی توزیع قباله‌های شرعی

به اساس هدایت شماره پنجم متحدالمآل نمبر(١٤) مورخ ١٤٤٤/٢/٤هــ ق ریاست محترم عمومی دارالانشاء مقام عالی ستره محکمه امارت اسلامی در رابطه به شروع قباله جات به تاریخ ١٤٤٤/٣/٦هــ ق تحت رهبری محترم مولوی محمد یوسف (ابوالوفاء) رئیس محکمهٔ استیناف ولایت بلخ جلسهٔ هماهنگی ارگان‌های مختلف قضائی و اداری در مقر ریاست استیناف بلخ تدویر یافت.

جلسه توسط یکی از حاضرین با تلاوت چند آیات قرانکریم آغاز گردید.

دراین جلسه نماینده‌گان مستوفیت ولایت بلخ، ریاست زراعت مالداری و آبیاری، آمر سکتوری شاروالی، مدیر عمومی املاک شهرداری، مدیر نظم گروف‌های تعقیب مالکیت آراضی و آمر قباله‌جات آراضی اشتراک ورزیده بوده‌اند.

محترم مولوی محمد یوسف (ابوالوفاء) رئیس عمومی محکمهٔ استیناف بلخ تشریف آوری اعضای جلسه را خیر مقدم گفت و در رابطه به اجندای جلسه بحث کرد. موصوف در این جلسه با حاضرین جلسه در مورد چگونگی و توزیع قباله‌های شرعی اصولی و جلوگیری از جعل و تزویر در آن صحبت کرد.

در ادامه جلسه محترم (ابوالوفاء) در خصوص روند قباله سریع و دقیق، جلوگیری از اجراآت خودسرانهٔ غیرقانونی و یا عدم حضوری ارگان‌های کشفی، چالش‌ها و مشکلات موجود در زمینه سازی برای ترتیب ثبت و صدور قباله‌های شرعی به شکل کمپیوتری برای ملکیت‌های عقاری به طور شفاف و مطمئن ابراز نظر نمود.

بعداً حاضرین مجلس به وظایف محولهٔ خویش از هر نوع فداکاری و شفافیت کار مطابق به طرزالعمل چگونگی توزیع قباله و پیشبر د به موقع امور خلق الله با کمال صداقت و ایمانداری اظهار تعهد سپردند.

در این نشست محترم مولوی امرالله (مصلح) رئیس عدلیه تعهد سپرد که در اجراء و توزیع قباله همکاری لازم می کند .

در اخیر جلسه محترم مولوی قمرالدین (سعید) آمر وثایق و مخزن یادآوری نمود که مسؤولین ذیربط باید با مراجعین برخورد نیک و مطابق با طرزالعمل توزیع قباله شرعی عمل نمایند.

جلسه با دعائیهٔ خیر و فلاح خاتمه یافت

## د پکتیا ولایت د استیناف محکمې رئیس د دغه ولایت اړوند محاکمو له قضاتو سره وکتل

د ۱۴۴۴ هـ ق کال د دربیمې میاشتې په ۱۵مه نېټه د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې عمومي رئیس الحاج مفتي عبیدالله (خالد) د دغه ولایت د ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو له قضاتو (رئیسانو) سره میاشتنۍ غونډه ترسره کړه.

غونډه د پکتیا ولایت د میرزکي ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې د رئیس مولوي عصمت الله (معتصم) لخوا د قرآن کریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه.

وروسته د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې عمومي رئیس د غونډې ګډونوالو ته ښه راغلاست ووایه او زیاته یې کړه، خوشحاله یم چې له محترمو قضاتو سره په دې ناسته کې پر مهمو اړوند موضوعاتو خبرې کوم.

د استیناف محکمې رئیس په یاده غونډه کې د جزائي او حقوقي دوسیو د ځنډ، د صورت دعوی پر اصولو، د قضائي او شرعي کتابونو پر بناء د فیصلې په کولو، د مصلحینو او شاهدانو د مواصفاتو، د مرافعه طلبۍ د وخت او په اونۍ کې یو ځل د محبوسینو د لیدنې په هکله درنو قضاتو ته تفصیلي خبرې وکړې.

همدارنګه د مختلف النوع وثایقو لکه وکالت خط بالاقرار، وکالت خط بالشهود، حصر وراثت، وصایت خط او نورو ګڼو وثایقو په هکله یې د رهنماء وثایق سره سم دوه ساعته سیمینار وړاندې او یادو قضاتو ته یې د دغه موضوعات په تړاو مهمې سپارښتنې وکړې.

په غونډه کې د نورو قضاتو په استازیتوب د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې رئیس مولوي محمدآجان (رهبر) خبرې وکړې او د مرافعه محکمې له رئیس څخه یې مننه وکړه. غونډه د دعاء په ویلو سره پای ته ورسېده.

## د هلمند ولایت د مرافعه محکمې د غونډې راپور

د چهارشنبې په ورځ (۱۶/ربیع الاول/ ۱۴۴۴ هـ ق نېټه) د هلمند ولایت د مرافعه محکمې د غونډو په تالارکې د دغه ولایت د مرافعه محکمې د رئیس مولوي سراج احمد (ابوسعید الغزنوي) په مشرۍ غونډه ترسره شوه.

په دې غونډه کې د مرافعه محکمې د ټولو دېوانونو قاضیانو، مفتیانو، محررینو او د ښاري محکمې د رئیس په شمول د ټولو دېوانونو قاضیانو، مفتیانو او محررینو ګډون کړی وو.

په غونډه کې د بندیانو په موضوعاتو خبرې وشوې او د بې برخلیکه بندیانو په اړه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د صادر شوي فرمان په عملي کولو ټینګار وشو.

د استیناف محکمې رئیس محترم مولوي سراج احمد (ابوسعید الغزنوي) قاضیانو ته په خطاب کې وویل چې قاضیان په حکم کې خپلواک دي او په حکم کې استهدا نشي غوښتلای.

دغه راز محترم (ابوسعید الغزنوي) قاضیانو ته د فیصلو د ترتیب او تنظیم په اړه لارښوونې وکړې او یاده غونډه د دعاء په ویلو سره پای ته ورسېده .

## جلسهٔ اداری غرض چگونگی اجراآت دوسیه‌های جزائی و حقوقی در محکمهٔ استیناف سمنگان

الیوم دوشنبه مورخ ۱٤٤٤/۲/۱۷ جلسهٔ روی چگونگی اجراآت دوسیه‌های جزائی و حقوقی و غیره تحت ریاست الحاج مولوی سعدالدین «سعید» رئیس محکمهٔ استیناف ولایت سمنگان با اشتراک رؤسای دواوین استیناف، رئیس محکمهٔ ابتدائیه شهری ایبک و رؤسای دواوین آن در مقر ریاست محکمهٔ استیناف تدویر یافت.

ابتداء جلسه با تلاوت آیات از کلام الله مجید آغاز شد؛ سپس رئیس محکمهٔ استیناف ضمن عرض خوش آمدید به اشتراک کننده‌گان، تدویر همچون جلسات را غرض رفع چالش، مشکلات و انجام بهتر امور خلق الله مؤثر و مثبت دانست، روی موضوعات شامل آجنداء صحبت‌های همه جانبه نمود.

الحاج مولوی سعدالدین «سعید» از مسؤولین حاضر جلسه تقاضا کرد که در اجرای چگونگی دوسیه‌های جزائی و حقوقی، ارسال و مرسل آن میان محاکم، ترتیب و فهرست بندی آن، مطالعه دقیق دوسیه‌ها وظایف پیشبرد به موقع امور خلق الله با کمال صداقت و ایمان به وقت و زمان معین آن در همآهنگی باهم عمل نمایند؛ تا عدالت به وجه احسن آن در جامعه تأمین گردد.

در ادامه رئیس محکمهٔ ابتدائیه شهری، رؤسای دواوین استینافی و شهری در رابطه به روند سریع و چگونگی نوع اجراآت دوسیه‌جات متهمین، باالنوبه پیرامون چالش‌ها و مشکلات در جریان کارهای‌شان در اداره خویش و با ادارات ذیربط صحبت همه جانبه نمودند، نظریات و پیشنهادات خویش را در موارد رفع چالش‌ها ابراز نمود.

در اخیر پیشنهادات و نظریات مطروحه توسط رئیس محکمهٔ استیناف جمع بندی و تصامیم لازم اخذ گردید، به آمریت تحریرات هدایت داده شد تا خلاصه جلسهٔ را طی مکتوب غرض نشر به ریاست محترم ارتباط خارجه، عامه و مطبوعات مقام عالی ستره محکمه گسیل دارند.

این جلسه با دعائیه خیر و فلاح خاتمه یافت.

## د لغمان ولایت استیناف محکمې د رئیس په مشرۍ اداري ناسته ترسره شوه

د ۱۴۴۴ کال په ربیع الاول میاشت کې د لغمان ولایت د استیناف محکمې په انګړ کې د استیناف محکمې د رئیس محترم مفتي عبدالله(فرقاني) په مشرۍ اداري غونډه ترسره شوه.

په دې غونډه کې د لغمان ولایت د ښاري محکمې رئیس، د دغه ولایت د مرافعه، ښاري محکمې او ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو محترمو قضاتو ګډون درلود.

غونډه د قرآن عظیم الشان د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت سره پیل شوه؛ ورپسې د استیناف محکمې رئیس د غونډې ګډونوالو ته ښه راغلاست ووایه.

د استیناف محکمې رئیس محترم مفتي عبدالله(فرقاني) وویل، د دې غونډې له جوړولو څخه مو هدف دادی چې د هغو مشکلاتو لپاره حللارې پیداکړو چې زمونږ محاکم ورسره مخامخ کیږي.

ورپسې د غونډې په اجنداء کې د شاملو لاندې موضوعاتو په اړه بحث وشو:

۱. دا چې محکمه باید انساني کرامت او حرمت ته په درناوۍ سره د مجرمینو حکایتونه او ویډیوګانې په عام مجلس کې نشر او خپرې نه کړي.

۲. ټول محاکم باید د خپلو اجراآتو راپورونه په خپل وخت له ځنډ پرته استیناف محکمې ته راولیږي.

۳. دا چې هر رئیس د خپلو ماتحتو کارکوونکی مشر وي لومړی باید ځان او ورپسې د خپلو مربوطه کارکوونکو د اصلاح په برخه کې خپل مسؤولیت درک او ترسره کړي.

٤. د محاکمو منسوبین باید له مراجعینو سره اسلامي او غوره چلند وکړي؛ ترڅو په راتلونکې کې د الله(جل جلاله) او د ملت له مسؤولیت څخه مصؤون وي.

٥. هره دوسیه باید په خپل مسیر باندې وروستۍ مرجع ته ولېږل شي (خپلې مربوطه مرجع ته واستول شي.)

٦. د غونډې په وروستۍ برخه کې د نکاح خطونو د وېش په اړه د ناستې د ګډونوالو نظر واخیستل شو او ناسته د دعاء په ویلو سره پای ته ورسېده.

## توحیدگزارش راپور دوسیه‌جات وثایق ریاست محکمهٔ مرافعه ولایت بلخ از تاریخ ۱۴۴۴/۳/۵ الی ۱۴۴۴/۳/۱۰ هـ ق

شامل اجراآت دواوین مرافعه، وثایق محکمه ابتدائیه شهری، محکمهٔ نظامی زون شمال و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها به شرح ذیل تحریر است.

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک هفته به تعداد ( ۱۰۸ )دوسیه وارد محاکم گردیده‌است؛ در حالیکه قبلاً (۲۲۱٥) دوسیه تحت دوران قرارداشت که مجموعاً (۲۳۲۳)دوسیه می‌شود. از آن جمله (۱۰) دوسیه مکتوبی،(١٤) دوسیه قرار قضائی، (۳٤) دوسیه فیصله اجراآت گردیده‌است و (۲۲٦٥) دوسیه تحت کارمی‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک هفته به تعداد(۷۰) دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً (٥۰۰) دوسیه تحت دوران قرارداشت که مجموعاً (٥۷۰) دوسیه می‌شود. از آن جمله (۱۰) دوسیه مکتوبی، (۱۸)دوسیه قرار قضائی، (۲۲)دوسیه فیصله اجراآت گردیده‌است و (٥۰۹) دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش تجارتی:**

در جریان یک هفته به تعداد(۳۲) دوسیه وارده در دیوان‌های مربوطه وارد گردیده است؛ در حالیکه (۳۲۹) دوسیه قبلاً تحت دوران قرار داشت که مجموعاً (۳٦۱) دوسیه می‌شود. از آن جمله (۳) دوسیه مکتوبی، (۲۷)دوسیه قرار قضائی، (٤) دوسیه فیصله و (۳۲۷) دوسیه تحت کار می‌باشد.

و همچنان به تعداد (۲٦٤) قطعه وثایق مختلف النوع اجراء گردید و طبق فرمان امارت اسلامی افغانستان قیمت آن اخذ نگردید.

## گزارش از رهنمائی عریضه نویسان ولایت پروان :

جلسهٔ عریضه نویسان جوار محکمهٔ ابتدائیه شهری و مقام ولایت پروان تحت ریاست شیخ القرآن والحدیث محمد قسیم «محمدی» رئیس محکمهٔ استیناف پروان و مفتی عزیزالله «حیدری» رئیس دیوان مدنی و حقوق عامه محکمهٔ استیناف در مقر ریاست دایر گردید.

در این جلسه راجع به چگونگی تحریر عرایض مراجعین بحث و تبادل نظر صورت گرفت که در نتیجه رهنمود کاری ذیل برای آنها تفهیم گردید.

- ✓ کمیشن کاری جرم بوده و عریضه نویسان جزء پول تحریر عریضه حق گرفتن پول اضافی را ندارند.
- ✓ مطابق مادهٔ (۲۱٤) اصولنامهٔ اداری محاکم در قسمت تحریر عریضه استیناف خواهی طبق بندهای (ج الی ح ) اصول نامه ذکرشده اجراآت صورت گیرد ، در غیر از آن عریضه باطل می‌باشد .
- ✓ در عرایض باید تاریخ وروز، نام محکمه درج گردد.
- ✓ در عریضه نام مدعی و مدعی علیه، پدر و پدرکلان، سکونت اصلی و فعلی، موضوع دعوی، عارض اگر نظامی یا ملکی باشد کسب وکار، و نمبر تیلفون آنها درج گردد.
- ✓ عرایض مغلق و پیچیده تحریر نگردد؛ به خاطری که باعث سرگردانی اصحاب دعوی، مراجعین و ضیاع وقت محاکم می‌گردد.
- ✓ در صورت نداشت تذکره و اسناد مربوط به عریضه عارض همچنان عدم موجودیت شخص عارض عریضه تحریر نگردد.

در خاتمه همه عریضه نویسان خود را مکلف به رعایت رهنمود فوق الذکر دانسته و تعهد سپرده‌اند که با محاکم ولایت همکار می‌باشند.جلسهٔ مذکور با دعاء خیر و فلاح به پایان رسید.

## دیدار با وکلای گذر شهر زرنج ولایت نیمروز

به تاریخ ۱٤۰۱/۷/۱۹ هـ ش مطابق با ۱٤٤٤/۳/۱٥ هـ ق جلسه تحت رهبری محترم شیخ مولانا عبدالخالق «امدادالحق» رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت نیمروز با عضویت محترم مولوی عبیدالله «عالمگیر» رئیس محکمهٔ ابتدائیه شهری، محترم مولوی میرحمزه «حقمل» آمر ثبت اسناد وثایق و مخزن محکمهٔ مرافعهٔ ولایت نیمروز و با حضورداشت وکلای گذر در مقر صالون محکمهٔ مرافعه آن ولایت دایر گردید.

در نخست محترم شیخ مولانا عبدالخالق «امداد الحق» رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت نیمروز با تلاوت چندی از آیات کلام الله مجید این جلسه را آغاز و در ضمن آن، حضور همه مهمانان را در این جلسه خیر مقدم عرض نمود.

متعاقباً رئیس عمومی محکمهٔ استیناف در مورد اهمیت و جایگاه بزرگسالان، بزرگان و متنفذین اقوام و علماء کرام صحبت نموده

موصوف افزود که نتیجهٔ قربانی بزرگان و علماء کرام در افغانستان بود که امروز ملت افغانستان از دست اشغال گران آزاد شده و تحت قیادت نظام اسلامی گردهم آمدند.

رئیس محکمهٔ مرافعه افزود که هر نظام از خود اصول، ضوابط و چارچوبی دارد، امارت اسلامی نیز در این امر مستثناء نیست و با روی کار آمدن نظام امارت اسلامی در افغانستان بیان صریح و واضح عالیقدرامیرالمؤمنین حفظه‌الله در پرتو شریعت این بوده تا از هیچ نوع تعصب، سمت گرائی، نژاد پرستی و روابط غیر اصولی در چوکات قضاء و نهاد های عدلی استفاده نشود؛ زیرا خداوند (جل جلاله) در قرانکریم میفرماید: اعدلو هو اقرب للتقوی (عدالت کنید همانا عدالت به تقوی نزدیکتر است).

همچنین شیخ مولانا امداد الحق افزود، یکی از اهداف بزرگ امارت اسلامی بعد از روی کار آمدن از بین بردن فساد، جعل، تزویر و سایر بی‌نظمی های که در ادارهٔ فاسد قبلی وجود داشت می‌باشد.

سپس مولانا امداد الحق نکات چند به منظور اجرای درست مسؤولیت از سوی وکلای گذر تصریح نمود:

۱. نخست اینکه هر وکیل گذر و ناحیه‌ای باید آنطورکه از طرف دولت دارای مهر و تاپه می‌باشد به شکل درست، امانتداری و دیانت کامل از موقف خویش دفاع و مسؤولیت دنیوی و اخروی خویش را به انجام برساند.

۲. ثانیاً فراموش نشودکه وکلای گذر منحیث پل ارتباط میان محاکم و مردم می‌باشند این اصل باید به شکل حراست شده و برای بهبود ارتباط مردم با محاکم، وکلای محترم گذر وظایف و امورات شان را طبق اصول و موازین نافذه شرعی مرعی بدارند.

محترم مولانا عبدالخالق «امداد الحق» در پایان صحبت‌هایش یکبار دیگر از نقش ویژه‌ای علماء کرام، بزرگان و محاسن سفیدان در شریعت اسلامی صحبت به عمل آورده ابراز نمودکه هر گاه وحدت میان مسلمانان و مردم مان به درستی به میان آید، آنطورکه خداوند (جل جلاله) میفرماید: انما المومنون اخوه یعنی (مؤمنان برادر یکدیگر اند) به یقین میتوان گفت که هیچ بی‌نظمی در جامعه باقی نخواهد ماند و هر نوع فساد از بین خواهد رفت.

در ادامه محترم مولوی عبیدالله «عالمگیر» رئیس محکمهٔ ابتدائیه شهری با تائید صحبت‌های محترم شیخ مولانا عبدالخالق «امداد الحق» رئیس عمومی محکمهٔ مرافعه بیان نمود که تأکید قضاء و محاکم ولایت نیمروز بر نقش متنفذین قوم و وکلای گذر این است که همانطور که امارت اسلامی به شما اعتماد نموده‌است با صداقت و ایمانداری کامل با محاکم و نهادهای عدلی و قضائی همکاری نمائید؛ زیرا تمام فیصله‌ها و اجراآت دستگاه عدل و قضاء در امارت اسلامی بر حسب گواهی وکلای گذر صورت می گیرد؛ چون وکلای گذر منحیث اهل خبره و یکی از منابع تحقیق و تثبیت احوال شهروندان در کنار محاکم قرار دارند.

موصوف افزود وکلای گذر دوشادوش نهادهای زیربط به مردم ارائه خدمت می‌نمایند؛ بنابر این باید صداقت، دیانت و امانتداری در کار وکلای گذر اولویت قلمداد گردد.

به تعقیب آن محترم مولوی میر حمزه «حقمل» آمر ثبت اسناد وثایق و مخزن محکمهٔ مرافعه ولایت نیمروز در مورد استعلام‌های در خصوص وثایق (قباله جات، نکاح خط، مجرد خط، حصر وراثت و...) صحبت نمود گفت که این آمریت به منظور از بین بردن فساد، این استعلام‌ها را به وکلای گذر راجع نموده، خواستار معلومات دقیق، به منظور اجراآت اصولی و شرعی می‌باشد؛ زیرا تمامی اجراآت این آمریت با استعلام‌های که با وکلای گذر ارسال می‌شوند وابسته می‌باشند؛ بنا بر این وکلای گذر تمام دقت و دیانت شان را در ارائه پاسخ دقیق به این استعلام‌ها و فورمه‌ها مبذول بدارند.

در اخیر وکلای گذر ولایت نیمروز نظریات مختلفی را پیرامون هماهنگی بهتر با ارگان‌های عدلی و قضائی پیرامون محاکم این ولایت ارائه داشته و با رؤسای محاکم تبادل نظر نموده‌اند.

سرپرست مسوول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیتور: جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

لا اله الا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشتکې دريځله چاپيږي

## د میدان وردګ ولایت د استیناف محکمې یوه پلاوي د دغه ولایت له څو ابتدائیه محاکمو لیدنه وکړه




د میدان وردګ ولایت د استیناف محکمې د رئیس محترم مولوي عبدالکریم (حقاني) په مشرۍ یوه پلاوي د جلریز، بهسود حصه اول او مرکزي بهسودو ولسوالیو له ابتدائیه محاکمو څخه لیدنه وکړه.

دغه پلاوي چې د عامه امنیت دیوان محرر مولوي محب الله او د ښاري محکمې د جزاء دیوان مفتي مولوي عبداللطیف (لطیفي) یې هم غړیتوب درلود، د یادو ابتدائیه محاکمو قضائي او اداري چارې و ارزولې، موجوده ستونزې یې ورته وښودلې او د حل لپاره یې لازمې مشورې او سپارښتنې وکړې.

دغه راز د استیناف محکمې د رئیس په مشرۍ یاد پلاوي د ابتدائیه محاکمو مسؤولینو او کارکوونکو ته ټینګار وکړ چې حاضرۍ ته پابندي وکړي، د چارو د لا ښه پرمختګ لپاره یې ورته د لازمو او مناسبو اجراآتو توصیه وکړه.

## در ریاست محکمۀ مرافعۀ ولایت تخار سیمینار قضائی راه اندازی شد




غرض بهبود امور قضائی و ارتقای ظرفیت علمی قضات از تاریخ ۷/ الی ۱۷ ربیع الاول سال ۱٤٤٤هـ ق سیمینار علمی و آموزشی قضائی ۱۰ روزه از طرف منسوبین ریاست محترم تعلیمات قضـــائی مقام عالی ستره محکمه امارت اسلامی افغانستان در ریاست محکمه مرافعه ولایت تخار دایر گردید.

در سیمینار مذکور که به تعداد (۷۵) نفر از قضات محاکم ولایت تخار و تعداد (۸۸) نفر از قضات محاکم ولایت بدخشان اشتراک ورزیده بوده‌اند از طرف چهار نفر از علمای جید و دانشمند ریاست محترم تعلیمات قضائی مقام عالی ستره محکمه باالنوبه هر کدام شان اصولنامه اجراآت عدلی، تعلیمات‌نامه تحریر وثایق، ترتیب و تحریر انواع فیصله‌ها، قرارقضائی، جلب‌نامه و مکاتیب را بطور علمی و مسلکی به شکل نظری و عملی شد.

درجریان دروس عملی این سیمینار محترم الحاج مولوی محمدصابر (حنفی) رئیس محکمۀ مرافعه ولایت تخار و محترم مولـــوی شمس الله (عزیزی) رئیس محکمۀ مرافعۀ ولایت بدخشان نیز در مورد نحو تحریر فیصله‌ها و قرارقضائی در بخش عملی همکاری نموده‌اند.

قضات محترم ولایات تخار و بدخشان در یک فضای کاملاً امن و صمیمانه از آموزش‌های مسلکی و ارزشمند و علماء کرام بهره مند شده‌اند.

و سیمینارمذکور موفقانه اختتام یافت .

ریاست محکمه مرافعه تخار از طرز آموزش عالمانه و مسلکی، رویۀ حسنه و رهنمائی‌های ارزشمند منسوبین عالیقدر ریاست محترم تعلیمات قضائی ابراز سپاس و امتنان مینمایند.

## گزارش جلسۀ کمیسیون روسای دواوین استیناف در ولایت کندز

به تاریخ ۱٤٤٤/۲/۲٦ هـ ق جلسۀ کمیسیون رؤسای دواوین استیناف تحت ریاست محترم مولوی نورمحمد (نوری) رئیس عمومی محکمۀ استیناف ولایت کندز به اشتراک رؤسای محترم دیوان‌های استیناف محکمۀ استیناف، رئیس محترم محکمۀ ابتدائیه شهری و آمر محترم ثبت اسناد و وثایق غرض بررسی استهداآت واصله و عرایض مراجعین تدویر یافت.

ابتداء جلسه با تلاوت آیات ازکلام الله مجید توسط یکی از اعضاء کمیسیون آغاز شد؛ بعداً استهداآت و عرایض مراجعین باالترتیب مورد غور و مداقه اعضای کمیسیون قرارگرفت.

در نتیجه وفق قوانین شرعی اعضاء کمیسیون در موارد موضوعات مطروحه بحث احکام و هدایت فرموده‌اند.

و به تحریرات هدایت داده شد تا احکام سپرده شده را به مراجع مربوط غرض اجراآت بعدی اخبار نماید.

## د لغمان د استیناف محکمې رئیس د دغه ولایت د ابتدائیه محاکمو له قضاتو سره وکتل

د لغمان ولایت د استیناف محکمې رئیس محترم مفتي عبدالله (فرقاني) د دوشنبې په ورځ (۱۴۴۴/۳/۲۱ هـ ق) نېټه د دغه ولایت د قرغیو، علینګار او دولت شاه ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو له قضاتو سره وکتل.

د استیناف محکمې رئیس په دې لیدنه کې د یادو ولسوالیو قضاتو ته د خپلو کارونو د ښه ترسره کولو لپاره لازم هدایات وکړل، وویل چې د خلکو عرایضو ته دې په ټاکلي وخت رسېدنه وشي، د خلق الله کارونه دې په شفاف ډول په خپل وخت کې حل او فصل شي.

دغه راز د استیناف محکمې رئیس محترم مفتي عبدالله (فرقاني) د اسلامي شریعت پر تطبیق ټینګار وکړ زیاته یې کړه، د افغانستان ځورېدلی ملت چې همیشه یې د اسلامي شریعت د نافذولو لپاره نه ستړې کېدونکې مبارزه کړې ده، باید د دې مبارزې نتیجه او ثمره ووینې.

بلخوا محترم مفتي عبدالله (فرقاني) په یاده نېټه د دولت شاه ولسوالۍ له ولسوال قاري متوکل او د قرغیو ولسوالۍ له امنیه قوماندان سره هم ملاقات وکړ.

په دې لیدنو کې دواړو لوریو په اړوند موجوده ستونزو او مشکلاتو بحث وکړ او ژمنه یې وکړه چې د ستونزو د حل په موخه به په اتفاقي شکل هڅې کوي.




میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته: ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publication@supremecourt.gov.af
www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳